بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان




د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !



# جمال الدين « شمس»

د نشر نیټه : 5 سپتامبر 2020 م

## پیر

پیرمی شو مرتد تمام عالم پرې خبردار شو
دی د دنیایي په خواهشاتو کې لتار شو
***
ده ماته د دين او د مذهب نصيحتونه کړل
د ماته د بلي دنيا ګی نه صفتونه کړل
اوس چي ورته ګورم دی اخته په دې ديار شو
پير مي شو مرتد تمام عالم پرې خبردار شو
***
ده ماته ویل مریده و ده ساته ځان
بل چي ازارېِ الله له تانه شي پښيمان
اوس خپله دا پير مي په ګناهو کې ايسار شو
پير مي شو مرتد تمام عالم پرې خبردار شو
***
دلته د کرسي او د چوکی په سر جنګونه دي
د لته د قدرت او د عزت په سر مرګونه دي
پير مي په دې لوبه کې اتل او قهرمان شو
پير مي شو مرتد تمام عالم پرې خبردار شو
***
پير مي ور ډوب شوی د دنيا په خواهشاتو کې
وراني کړلو ملک په نفسانيو تمنياتو کې
شمس لاره ليدلی ده مريد د بل بادار شو
پير مي شو مرتد تمام عالم پرې خبردار شو
***

جمال الدين « شمس»